AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www.al-aasar.com

Vol. 3, No.1 (2026)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN:3006-6921

د عبدالحميد بابا او علي خان په کلام کښې د فلسفيانه افکارو تقابلي جائزه

A COMPARATIVE STUDY OF PHILOSOPHICAL THOUGHTS IN THE POETRY OF ABDUL HAMEED BABA AND ALI KHAN

Shams Ur Rehman
Dr. Sher Zaman Seemab

Abstract:

This research presents a comparative analysis of the Philosophical thoughts found in the poetry of Abdul Hamid Baba and Ali Khan it highlights the themes in the poetry of Abdul Hamid Baba and Ali Khan that reflect Philosophical Similarities. An examination of their poetry reveals that ethics, aesthetics, religion, beauty and love, nationalism, Sufism and realism are among the themes that represent distinct philosophical perspectives in their thought. Within these philosophical perspectives, both poets are so closely aligned with each other that it becomes difficult to distinguish between them. Therefore, many readers and disteners find it difficult to differentiate between the poetry of Abdul Hamid Baba and Ali Khan.

This research will be beneficial to the people and will contribute to the promotion of Knowledge, literature and learning.

فلسفه د يوناني ژبې کلمه ده چې له دوو کلمو نه جوړه شوې ده يعني Philo او Sophia . د Philo معنا مينه او Sophia معنا پوهه او حکمت معنا شوه پوهه او حکمت سره مينه کول . همدغې يوناني کلمې نه "Philosphy" اصطلاح جوړه شوې ده .

فيروز اللغات د فلسفې معنا داسې کوي:

"علم و حکمت، علم موجودات، حکمت، دانائي ."

د فلسفې بلها تعريفونه شوي دي خو يو داسې تاکلے تعريف ئې نشته چې بنده وربانديې اکتفا اوکړي . ولې چې افلاطون فلسفه د شيانو د ماهيت د لازمي او تلپاتې پوهې نوم بولي . د ارسطو په اند د فلسفې موخه دا ده چې مونږ پوهه شو چې موجودات په خپل طبيعت کښې څنګه دي او حقيقت ئې څۀ دے . کانټ فلسفه د ادراک او تعقل د تنقيد علم ګڼي . فلسفه هغه علم او فکري هڅه ده چې انسان د ژوند هستي، حقيقت، پوهې، اخلاقياتو، انسان او د نړۍ بنيادي مسئلو په حقله ژور فکر کوي او د عقل او منطق د لارې د حقيقت لټون او د مسئلو هوارولو هڅه کوي .

فلسفه د پوهې يو علم دے او دا پوهه د انسان په فکر تکيه کوي . څومره چې د انسان فکر ژور وي نو دومره د هغۀ فلسفه ژوره وي ولې چې د هغۀ په وسيله سوچ کوي، غور کوي ، معلومات سره يوځائے کوي او په اخر کښې يوې نتيجې ته رسېږي .

د ډاکټر ظهير رحمتي د وېنا تر مخه:

> "(د اردو متن ژباړه) په اصطلاح کښې فکر د ذهن هغې هڅې او حرکت ته وائي چې د کوم ځانګړي مقصد د پاره په ذهن کښې موجود عکسونه او معناوي تعليل او ترکيب کوي او د يوې نوې نتيجې يا حقيقت تر لاسه

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www.al-aasar.com

Vol. 3, No.1 (2026)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN:3006-6921

کولو کوشش کوي ۔"[1]

د فلسفې اصلي بنیاد یونان ایشے دے ولې چې یونان د سقراط، افلاطون او ارسطو غوندې نامتو فلسفیان زېږولي دي کوم چې د فلسفې اکابرین ګڼل کېږي ۔

د فلسفې په اړه ډاکټر اشرف کمال لیکي:

> "(د اردو متن ژباړه) فلسفه په حقیقت کښې د ژوند او د هغۀ د تېرولو په حوالې سره د کائنات په تناظر کښې د ځینو خبرو وضاحت وړاندې کوي یا د ښکلا ښکلو شیانو په اړه د انسان په ذهن کښې پیدا کېدونکو پوښتنو ته د جواب موندلو هڅه کوي ۔"[2]

انسان پېدائشي یو فلسفي دے ولې چې هر انسان د کائنات او چاپېرچل په باب غور کوي ، لټون کوي، د مثبت او منفي اړخونو تفریق کوي ۔ د بنده دغه نظر هم سوال لري او هم د خپل ذهن مطابق جواب خو لوے فلسفي هغه دے چې د چا فکر ژور وي ۔ د فکر ژورواله علم، مشاهده او تجربه غواړي ۔ چونکې د پښتو شعري ادب دوه نامتو شاعران عبدالحمید بابا او علي خان ته د ژور فکر، علم، مشاهده او تجربه حاصله وه ۔

عبدالحمید بابا او علي خان په بنیادي توګه د سبکِ هندي شاعران دي ولې چې هغوي د سبکِ هندي ټول لوازمات او خصوصیات خپل کړي دي ۔ پښتو ادب کښې عبدالحمید بابا د سبکِ هندي امام ګڼلے شي او علي خان د عبدالحمید بابا د سبک په اقتدا منلے شوے دے ۔ خو بیا هم د عبدالحمید بابا او علي خان په کلام کښې د اخلاقیاتو یوه لویه ذخیره موجوده ده او همدغه د اخلاقیاتو یوه لویه ذخیره یوه لویه فلسفه لري ۔

د دوي په کلام کښې د انسان نفس اصلاح، رښتونولي، تواضع و عاجزي، قناعت و استغنا، د دنیا نا پائیداري، وعظ و نصیحت او د تقوٰی پېغام موجود دے ۔ او دغه رنګ بغض و کینه، حرص، کبر، دنیا پرستي او نفسیاتي غوښتنو څخه د ځان د ژغورلو تلقین موجود دے ۔

د عبدالحمید بابا او علي خان په کلام کښې چې کوم د اخلاقیاتو درس موجود دے دا د دې خبرې دلالت کوي چې هغوي دواړه سوچه او پاخۀ مسلمانان وو، د هغوي په باطن کښې یوه لویه تقوٰی وه او بله دا چې دوي دواړه د اسلامي تعلیماتو نه آګاه وو ولې چې په اسلامي تعلیماتو کښې زمونږ خوږ پېغمبر ﷺ دې وېنا دا خبر واضحه کړې ده چې دین د ښو اخلاقو تکمیل دے ۔ حضرت محمد مصطفٰی ﷺ فرمائي چې په مؤمنانو کښې تر ټولو کامل ایمان د هغه چا دے چې اخلاق ئې تر ټولو غوره وي ۔ یو بل حدیث کښې راځي چې د قیامت په ورځ به د انسان په تله کښې تر ټولو درونده شۀ اخلاق وي ۔

اخلاق د هر انسان یو مهم او اساسي جز دے ۔ زمونږ خوږ پېغمبر ﷺ خپلو اُمتیانو ته په ښو اخلاقو ډېر زور ورکړے دے ۔ انسان په ښو اخلاقو ښائسته دے ۔ اخلاقیات د یو انسان لپاره د شا تیر هومره حېثیت لري ۔ اخلاقیات په ټولنیز ژوند کښې یو مهم او اساسي کردار

---

1) ظہیر رحمتی، ڈاکٹر، "غزل کی تنقیدی اصطلاحات"، دہلی: جواہر لعل نہرو یونیورسٹی، 2005ء، ص:382

2) اشرف کمال، ڈاکٹر، "فلسفہ اور تاریخ فلسفہ"، کراچی: سٹی بک پوائنٹ، نوید سکوپر اُردو بازار، ص:11

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www.al-aasar.com

Vol. 3, No.1 (2026)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN:3006-6921

لوبوي ۔ ولې چې اخلاق او انسانیت یو بل سره تړلي دي ۔ انسان ته د اشرف المخلوقات مقام د ښو اخلاقو له مخه حاصل دے ۔ ټولنیز ژوند او تهذیب انساني پېداوار دے ۔ ځومره چې انسان تهذیب یافته او مهذب وي نو دومره ورسره ټولنه هم مهذبه وي ۔ کومه ټولنه چې اخلاقو او اخلاقي اقدارو نه خالي وي هغه کله هم یوه روغه، خوشحاله او ترقي یافته ټولنه نۀ شي جوړېدلے ۔ د روغې او ترقي یافته ټولنې لپاره د انسان اخلاقیات پکار دي چې هغه په دغو وسیلو د انسان او ټولنې لپاره هلې ځلې اوکړي ۔ عبدالحمید بابا او علي خان همدغه کار او زیار لپاره د اخلاقیاتو فلسفه وړاندې کوي ۔

د عبدالحمید بابا په اړه ډاکټر اقبال نسیم خټک لیکي:

> "حمید بابا د اخلاقیاتو شاعر دے ۔ یو فصیح زبانه واعظ دے ۔ او د ژوند په باب کښې د مثبت انداز فکر لرونکے مبلغ دے ۔ هغۀ د اخلاقي شاعرۍ په هر اړخ د خپلو سپېځلو خیالاتو اظهار کړے دے ۔ "[1]

عبدالحمید بابا د خپل عصر یو بېدار او حساس انسان وۀ ځکه خو هغۀ د خپل حساسیت په وجه د انسان او ټولنیز ژوند لپاره د اصلاح و اخلاقیاتو تبلیغ کولو ۔ شاعر هسې هم د ټولنیز ژوند او تهذیب و تمدن په حقله ډېر ځیرک وي او د ټولنې د بقا او ارتقا لپاره خپله هڅه جاري ساتي ۔ په تېره تېره خو د زور و ظلم او زیاتي مخنیوي لپاره خپل قلم ته ډېر زور ورکوي ۔ په دغه ځیرکتیا کښې یو عبدالحمید بابا هم دے چې هغوي د اصلاح و اخلاقیاتو په زور د زور و ظلم مخنیوے کوي او د انسان د ټولنیز ژوند د بقاء او ارتقاء لپاره خپله هڅه کوي ۔

د عبدالحمید بابا په رنګ علي خان هم د اخلاقیاتو فلسفه وړاندې کوي ۔ ولې چې هغه پوهه وۀ چې د انسان او د ټولنیز ژوند بقاء او ارتقاء د انسان په اخلاقیاتو کښې خوندي ده ځکه خو هغه یو بنده ته د نېک خوي، پاک باطن، عاجزي، صبر و قناعت، تقوٰی او خېر ښېګړې تلقین کوي او د دنیا له فریب، کینه، بغض، تکبر، زور و ظلم او ګناهونو څخه د ځان ژغورلو ترغیب چلوي ۔

ډاکټر حنیف خلیل لیکي:

> "په پښتو شعر و ادب کښې د علي خان مقام او حېثیت د رومانوي شاعرۍ په حواله منلے شوے دے ۔ خو د هغۀ اخلاقي شاعري د هغۀ رومانې رنګ په هېڅ قسم کم نۀ دے ۔ "[2]

علي خان په خپل کلام کښې د اخلاقیاتو داسې ملغلرې پېښلي دي چې ځومره ئې لولي او اوري نو دومره په یو بنده اغېز کوي او دغه اغېز د بنده باطني روزنه کړۍ ۔ علي خان د اخلاقیاتو لوے مدرس دے ۔ هغه په کوزه کښې سمندر بندوي ۔ د هغۀ د حکمت نه ډک، ژور تخیل او اصلاحي افکار د سمندر هومره ژورتیا لري او سړے ځان پسې د سمندر تل ته کوزوي ۔ د علي خان دومره فلسفیانه او حکیمانه غږ نه موخه د انسان او د ټولنیز ژوند اصلاح کول دي ۔ ځکه چې انسان د اخلاقیاتو مظاهره اوکړي نو ټولنیز ژوند په خپله اصلاح کېږي ۔

---

1) خټک، اقبال نسیم، ډاکټر، "د رنګ او بو قافله"، پېښور:، یونیورسټي بُک ایجنسي، ۱۹۹۴ء، مخ: ۳۷

2) حنیف خلیل، ډاکټر، "د پښتو کلاسیکي شاعري"، (ایم-اے پښتو) اول کال نوے کورس، ۲۰۱۱ء، مخ: ۳۵۱

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www.al-aasar.com

Vol. 3, No.1 (2026)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN:3006-6921

عبدالحميد بابا او علي خان دواړو د اخلاقياتو معيار او مقام پېژندلو ځکه خو هغوي د انسان او ټولنې په جوړولو کښې د شعر په وسيله خپل ترغيب چلولو ـ او د ژوند د دواړو اړخونو ښۀ او بد نشاندهي ئې کوله ـ د بېلګې په توګه د عبدالحميد بابا څو اشعار څۀ داسې دي، هغه وائي:

چې مې زړۀ په سود او زيان
شي پورته ښکته
هغه دم مې محبت وهي په
لته[1]

په هغۀ لکه مچان خلک بڼېږي
چې په خولۀ کښې غړوي نباته
ژبه[2]

د مظلوم د ازار غشي رسا لګي
هېڅ ګذار ئې خطا نۀ درومي
عبس[3]

په حيا کښې سړے وړے ټوے ښۀ دے
نۀ په شهد او شکر مړ بد
رسوا[4]

علي خان وائي:

اشنائي لکه سرود په اتفاق
شي
نغمه کله کا چې وي يکښې يو
تار سست[5]

که هر څو له صبر اه و فرياد
نۀ کړم
نۀ دے حال د علي خان غوندې
غمژن پت[6]

هر غني چې دلجوئي د فقير نۀ
کا
زر اندوز دے په غنيانو حساب
نۀ دے[7]

---

1) مومند، عبدالحميد، "دُر او مرجان"، پېښور: يونيورسټي بُک ايجنسي، ۱۹۹۴ء، مخ: ۱۷۳
2) همدغه اثر، مخ: ۱۶۵
3) همدغه اثر، مخ: ۹۵
4) همدغه اثر، مخ: ۳۹
5) علي خان، "د علي خان ديوان"، پېښور: دانش خپرونديو ټولنې تخنيکي څانګه، قصه خواني بازار، ۲۰۰۵ء، مخ: ۱۹
6) همدغه اثر، مخ: ۲۴
7) علي خان، "د علي خان ديوان"، پېښور: دانش خپرونديو ټولنې تخنيکي څانګه، قصه خواني بازار، ۲۰۰۵ء، مخ: ۱۶۹

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www.al-aasar.com

Vol. 3, No.1 (2026)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN:3006-6921

عبدالحميد بابا او علي خان د فلسفه جمال تر مخه د محبوب حسن، اخلاق، کړۀ وړۀ، سوچ فکر او معاشرتي ژوند کول ټول جمال ګڼي . کوم سره چې جمالياتي حظ حاصلېږي .

د سيد عبدالله د وېنا تر مخه:

> "(د اردو متن ژباړه) ښکلا او ادراک ښکلا ټولې نظريو په مخکښې دا خبره په ډاډ سره وئيل کېږي . چې ښکلا او جمال که هر څۀ هم ده . د دۀ يوه پېژنګلو دا ده چې دې سره جمالياتي خوند حاصلېږي ."[1]

حسن حسن دے هغه که انساني وي او که نور فطرتي حسن وي خو د انسان خوښېږي او هر انسان ته يو روحاني تسکين او اطمېنان بخښي . ځکه خو حميد بابا په جار وائي :

هغه سېل کاندي د ګلو په هر دم
کښې
چې په زړۀ کښې ئې بشره د خوش
رنګ کښېني[2]

حميد بابا د حسن و جمال په اړه ژور نظر درلودۀ ولې چې هغۀ د جمال په حقله کوم اشعار وئيلي دي هغه د معروضي او موضوعي حسن احاطه کوي . د حسن دوه غټې نظريې دي چې يوه معروضي او بله موضوعي بللے شي .

د دغه نظريو په اړه ډاکټر ثريا حسېن ليکي:

> "(د اُردو متن ژباړه) مونږ ته د معروض او موضوع د اړيکې د لارې د ښکلا اندازه او د ښکلا د ظهور احساس کېږي . له همدې امله دواړه يو بل د پاره لازم و ملزوم دي ."[3]

عبدالحميد بابا د حسن و جمال په باره کښې ډېر تېز بصيرت درلودۀ . هغۀ حسن کتلے دے او حسن ئې حِس کړے دے او بيا ئې خپل شعر کښې د حسن و جمال انځور ګړي کړي ده . ولې چې د هغۀ د کلام د فطرتي رنګونو، عکسونو او د پرکششو مناظرو يوه مجموعه ده .

عبدالحميد بابا وائي چې:

سرې شونډې ئې زېب هسې پېدا
په تبسم کا
عېن لکه غنچه چې پانې
اوسپړي د ګل[4]

د عبدالحميد بابا په څېر د علي خان هم د حسن و جمال نه متاثره دے . هغه د حسن و جمال لټون کوي بيا د دغه لټون مونډنه د خپل کلام برخه جوړوي خو د ويار خبره دا ده چې څومره عبدالحميد بابا د حسن و جمال متعلق تېز بصيرت درلودۀ نو دومره علي خان هم

---

1) سید عبداللہ، ڈاکٹر، "اشاراتِ تنقید"، لاہور: سنگ میل پبلی کیشنز، ص:244

2) مومند، عبدالحميد، "ډر او مرجان"، پېښور: يونيورسټي بُک ايجنسي، ۱۹۹۴ء، مخ: ۲۴۱

3) سریا حسین، ڈاکٹر، "جمالیات اور ادب"، علی گڑھ: لیتھو کلر پرنٹس، 1979ء، ص:16

4) مومند، عبدالحميد، "ډر او مرجان"، پېښور: يونيورسټي بُک ايجنسي، ۱۹۹۴ء، مخ: ۱۲۷

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www.al-aasar.com

Vol. 3, No.1 (2026)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN:3006-6921

جمالياتي حسن ته په ځير نظر سره ګوري . دا د علي خان حواسِ خمسه دي چې هغۀ ته وربانډې ادراکِ حسن کېږي . علي خان وائي چې:

چې سړې شونډې سبز خط ئې را
پـــــــــــه زړۀ کـــــــــــړم
سر تر پايه سره لمبه شم شنه
ډډوزه[1]

د عبدالحميد بابا او علي خان په کلام کښې د مذهب موضوع هم ډېره واضحه ښکاري ولې چې عبدالحميد بابا او علي خان د خپل کلام شروع د حمدِ باري تعالٰی نه کړې ده . دا د مسلمانانو شاعرانو يو روايت هم دے چې د شعري مجموعو شروع د حمدِ باري تعالٰی او يا نعت شريف نه کوي . چونکې عبدالحميد بابا او علي خان هم دا روايت برقرار ساتلے دے . د دې نه علاوه هغوي ځائے په ځائے مذهبي موضوعات د کلام برخه ګرځولې ده . د دوي په کلام کښې د اخلاقياتو، شريعت، خبر ښېګړې، رښتونولي، وعظ و نصيحت، د دنيا بې ثباتي او د نېکۍ درس موجود دے او د غه رنګ حسد، کينه، لالچ، زور و ظلم، بې انصافي، کبر او نفسياتي غوښتنو څخه د ځان ژغورلو تلقين موجود دے کوم چې د مذهبي فکر و فلسفه سره ژور تعلق ساتي .

عبدالحميد بابا او علي خان دوه پاخۀ مسلمانان وو . د هغوي عقائد د سُني مسلک وو . د هغوي د کلام نه دا اندازه لګي چې هغوي د قرآن د علومو ژوره مطالعه لرله ولې چې د هغوي په کلام کښې په ځينې ځائے کښې د قراني ايتونو ترجمې او ځينې ځائے کښې د قراني ايتونو مفهوم او احاديث مونډلے کېږي .

عبدالحميد بابا وائي:

اول اولوله ايات د لن تنا
هله لاف د محبت کړه د اشنا[2]

علي خان وائي:

ابتداء کووم په اسم د مولٰی
چې په حکم کښې ئې دے ارض و
ســـــــــــــــــــــــــــــــــما[3]

د عبدالحميد بابا او علي خان په شاعرۍ کښې د نورو موضوعاتو په رنګ د حسن و عشق فلسفه هم موجودګي لري . حالانکې دا يوه زړه موضوع ده او د هر ادب شاعرانو د حسن و عشق فلسفه خپله کړې ده . خو عبدالحميد بابا او علي خان په بنيادي توګه د حسن و عشق شاعران دي او هغوي د غه موضوع د نورو موضوعاتو په مقابله کښې د خپل کلام پرېمانه برخه ګرځولې ده .

عبدالحميد بابا او علي خان دواړه حسن شناس وو او هغوي دواړه د حسن په ارزښت او معيار پوهېدل ځکه خو د هغوي په کلام کښې د حسن

1) علي خان، "د علي خان ديوان"، پېښور: دانش خپرونډويې ټولنې تخنيکي ځانګه، قصه خواني بازار، ۲۰۰۵ء، مخ: ۵۵
2) مومند، عبدالحميد، "دُر او مرجان"، پېښور: يونيورسټي بُک ايجنسي، ۱۹۹۴ء، مخ: ۳۴
3) همدغه اثر، مخ: ۱

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www.al-aasar.com

Vol. 3, No.1 (2026)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN:3006-6921

و عشق زياته ونډه موجوده ده .

انسان فطرتاً حسن پرست دے . هغه حسن ګوري، خوښوي او حسن سره بې کچه مينه کوي . د فطرت له مخه د کائنات په شکلا کښې خوند او رنګ او خپل جماليياتي حِس ته ورباندې تسکين او اطمينان رسوي .

امام عبيد الله سندهي ليکي:

> "(د اُردو متن ژباړه) د انسان فطرت د حيوان په څېر يواځې خپل ذاتي اړتياوې په پوره کولو نۀ قانع کېږي بلکې هغه همېشه ښې نه د ښې او غوره څيز په لټون کښې وي . انسان په هر څۀ کښې د لطافت، تازګۍ، شکلا او د خوبۍ خوښونکے دے . کوم نه چې هغه خپل جماليياتي حِس (د شکلا پېژندنې) حِس تر ممکنه بريده راضي او مطمئن کړي ."[1]

د حسن په اړه همدغه فطرت د عبدالحميد بابا او علي خان هم دے چې هغوي د کائنات په شکلا کښې خوند او رنګ ګوري او بيا د خپل جماليياتي حِس ترجماني هم کوي چې نۀ فقط د شعر و حسن معيار اوچتوي بلکې د حسن و جمال يوه لويه فلسفه هم وړاندې کوي .

عبدالحميد بابا وائي:

لـه هغه مخه څوک څنګه بوسه اخلـــــــــــــــــــــــــــــي
چې ئې مخ وي د او مو پۀ بوپـــــــــــــــــــــــــــــــروے[2]

علي خان وائي چې:

انګې ئې په بوه سره زخمي شـــــــــــــــــــــــــــــــول
د اومو پېښو پېروي دي که نۀ دي[3]

د عبدالحميد بابا او علي خان په فلسفه کښې قوميت هم ډېر څرګند دے . ولې چې قوميت يوه داسې موضوع ده چې هر شاعر ، ادیب په خپل کلام کښې ځائے ورکوي . پښتو ادب کښې امير کرور نه راواخله تر نن پورې شاعرانو د خپل قوميت اظهار په ويار سره په خپل کلام کښې کړے دے .

هر شاعر، ادیب د خپل قام ازادي،خودمختاري، دفاع، خدمت، ننګ، يو والے او برتري غواړي او په دې سبب هغوي په خپل کلام کښې د قوميت په موضوع افتخار کوي . د پښتو کلاسيکي عصر کښې عبدالحميد بابا او علي خان دوه داسې نومورې شاعران دي چې هغوي د قوميت موضوع خپله کړې ده . او بيا په داسې موضوع ئې ويار هم کړے دے . د

---

1) سندھی، مولانا، عبید اللہ، "شعور و آگہی"، لاہور: رحیمیہ مطبوعات، کوئز روڈ، مئی 2009ء، ص:76

2) مومند، عبدالحميد، "ډر او مرجان"، پېښور: يونيورسټي بُک ايجنسي، ۱۹۹۴ء، مخ: ۲۲۷

3) علي خان، "د علي خان ديوان"، پېښور: دانش خپرونديې ټولنې تخنيکي ځانګه، قصه خواني بازار، ۲۰۰۵ء، مخ: ۱۶۴

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www.al-aasar.com

Vol. 3, No.1 (2026)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN:3006-6921

بېلګې په توګه عبدالحميد بابا وائي:

قول او بول په ژوندون نۀ شي
نـــــــــور ولـــــــــــې
ځکـــه ځـــان پـــه قـــول وژنـــې
پښـــــــــــــــــتانۀ[1]

عبدالحميد بابا په مذکوره شعر کښې د قول او بول په اړه وائي چې د زمکې په مخ پښتون يو داسې قوم دے چې هغه په ژوند کښې د قول او بول ډېر خيال ساتي ۔ تر دې چې پښتانۀ په خپل قول او بول ځان وژني خو خپل قول او بول نورولے نۀ شي ۔

بل ځائے کښې وائي:

پروت په وينو کښې لت پت شۀ
يـــم پـــــه پـــــت کښـــــې
نۀ د سرو زرو په تخت باندې
بـــــــــــې پتـــــــــــــه[2]

عبدالحميد بابا يو سوچه او کلک پښتون دے، د هغۀ وينه کښې پت او مړانه په غورځنګونو ده ځکه خو هغه د پت په مخکښې ځان په وينو کښې لت پت خوښوي خو نۀ دا چې هغه د سرو زرو په تخت باندې بې پته شي ولې چې د پښتون قام په خمير کښې بې پتي يو لوے تور داغ دے او دا تور داغ پښتانۀ هېڅ کله نۀ شي زغملے ۔

د عبدالحميد بابا په رنګ علي خان هم يو قام پرست شاعر دے ۔ د هغۀ په کلام کښې د پښتون قام، د پښتنو خاورې، د پښتنو سيمې اب و هوا ذکر ځائے په ځائے موندل کېږي ۔ د علي خان په کلام کښې د قوميت دومره ډېر او لوے اثار د دوي په قام پرستۍ دلالت کوي ۔ د بېلګې په توګه علي خان په خپل کلام کښې وائي چې:

د کوڅې ګوټ به دې پرې نۀ
ږدم رقيـــــــــــب تـــــــــه
افريدے شوم و مغل ته خېبر
نيســـــــــــــــــــــم[3]

په مذکوره شعر کښې علي خان د پښتون افريدي قام څومره مړانه بيانوي ۔ او خپل محبوب ته د رقيب په اړه عنديه ورکوي چې د کوڅې ګوټ به دې رقيب ته پرې نۀ ږدم ولې چې زۀ پښتون يم او يو پښتون د افريدي قام په څېر مغل ته خېبر نيسم ۔ په دې شعر کښې يوه تاريخي واقعه پېښه پرته ده ۔ ولې چې افريدي قام سره د نورو پښتنو مغل قام ته د خېبر درې نيولې وه او مغل په شمول د څلوېښت زره لښکره د خېبر په درې کښې سره د اسونو، کچرو او هاتيانو او وژل شول او په تاريخ کښې د مغل خاندان يوه بد ترينه ماتې يادېږي ۔ چونکې علي خان خپل محبوب ته د رقيب په اړه عنديه ورکوي او د پښتون قام مړانه څومره په وياړ سره يادوي ۔

د عبدالحميد بابا او علي خان په کلام کښې د تصوف فکر و فلسفه

---

1) مومند، عبدالحميد، "دُر او مرجان"، پېښور: يونيورسټي بُک ايجنسي، ۱۹۹۴ء، مخ: ۲۱۹
2) همدغه اثر، مخ:۱۲۹
3) علي خان، "د علي خان ديوان"، پېښور: دانش خپرندويي ټولنې تخنيکي څانګه، قصه خواني بازار، ۲۰۰۵ء، مخ: ۱۱۹

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www.al-aasar.com

Vol. 3, No.1 (2026)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN:3006-6921

هم پرېمانه لیدے شي . ولي چې هغوي پښتو ادب ته دومره پرېمانه اشعار پرېښودي دي چې نن هم تشنګان علم و ادب وربانديې خپله تنده ماتوي .

دا بېله خبره ده چې د هغوي په کلام کښې د حقيقي عشق په ځائے مجازي عشق زيات ليدے شي خو د عربي مقوله ده چې "المجاز قنطرة الحقيقة" يعني مجاز د حقيقت پورې ده .

دا حقيقت دے چې انسان د مجاز نه روسته حقيقت ته رسېږي ولي چې د پښتو اکثرو شعراؤ په کلام کښې د مجازي عشق سره سره د حقيقي عشق اشعار مونډل کېږي . د بېلګې په توګه عبدالحميد بابا وائي:

هر نفس د خداے له چاره
ناچاري ده
بې او بو ژندګي کله شي د
کباب[1]

عبدالحميد بابا په مذکوره شعر کښې وائي چې په صحيح معنوکښې هر بنده د خدائے په يادو پائي ولي چې د خدائے په يادو کښې د روح اطمېنان دے او د خداے په پاک د ياد نه سېوا يو څيز سره هم روح مطمئن نۀ شي پاتي کېدلے . د دې مثال داسې دے لکه څنګه چې يو کب بغېر د اوبو نه ژوند او ګذاره نۀ شي کولے .

علي خان وائي:

يو وېښتۀ به ئې په تن د هوس
نۀ وي
چې لري د نيم وېښتۀ برابر
مينه[2]

علي خان د حقيقي مينې په اړه وائي چې چاته حقيقي مينه د نيم وېښتۀ برابر هم نصيب شي هغه د دنيا د عېش و عشرت او هوس نه بې پرواه وي حتی چې د يو وېښتۀ هومره به هم د تن هوس اونۀ لري . د عبدالحميد بابا او علي خان فکر و فلسفه د دې خبرې دلالت کوي چې هغوي دواړه حقيقت پسند وو ولي چې هغوي په ټولنيز ژوند کښې چې څۀ ليدلي دي او يا څۀ ئې محسوس کړي دي نو هغه واقعات او حالات ئې هو به هو هم هغه شان خپل قلم ته سپارلي دي . حالانکې په ټولنيز ژوند کښې داسې صفا او حقه وېنا ډېره ګرانه ده ولي چې داسې صفا او حقه وېنا په ټولنه کښې زړۀ بدون او دښمنی پېدا کوي . خو دوي د خپلي فلسفې تر مخه په حقائقو هېڅ کله سترګې نۀ دي پټې کړي بلکې چې څۀ ئې هم ليدلي او محسوس کړي دي هم هغه شان ئې وئيلي دي کوم چې د يو حقيقت پسند شخصيت منشا ګڼلے شي . چونکې عبدالحميد بابا او علي خان بې د څۀ ويرې او ترحي د حقيقت د حقيقت پسندی لمن نۀ ده پرېښې بلکې د کلام دغه اوصاف ئې تر لاسه کړي دي .

د بېلګې په توګه عبدالحميد بابا وائي:

---

1) مومند، عبدالحميد، "دُر او مرجان"، پېښور: يونيورسټي بُک ايجنسي، ۱۹۹۴ء، مخ: ۴۷

2) علي خان، "د علي خان ديوان"، پېښور: دانش خپرونديې ټولنې تخنيکي څانګه، قصه خواني بازار، ۲۰۰۵ء، مخ: ۱۲۲

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www.al-aasar.com

Vol. 3, No.1 (2026)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN:3006-6921

غاښ دي اوخاتۀ په بـلـه شوي
كـنـــــــ